# تحقيق او تنقيد يو بل ته اړتيامند

## Exploring the Nexus of Research and Criticism

محب وزير[*]

**Abstract**: *In this research paper, the scholar has strived to develop the causal link between the process of research and criticism that, dialectically help in the development of authentic, effective and applicable knowledge base in every society of the world. While narrowing his prism on the literary research and criticism he has shared the inevitability that combines research and criticism as supplementary process. The paper also caters basic tips for dealing with different stages of literary and academic research and especially focus on the essentials for analysis.*

د تحقيق او تنقيد په حقله د عامو لوستونکيو څۀ چې د ډېرو پوهه کسانو رويه هم دا ده چې ګڼي د دې دواړو تر مينځه ډېر لوئ فصيل پروت دی. خو داسې نۀ ده. دواړه څانګې د يو بل د اصولو نه استفاده کوي او د يو بل په مټ خپل کار او زيار سر ته رسوي او که دغه خپلوی ته ئې نور دوام هم ورکړی شي نو د غوره تحقيقي او تنقيدي ليکنو امکانات لرل کېدی شي.

انسان د خپل پيداوښت راسې د نوو نوو څيزونو د رابرڅېره کولو او د رابرڅېره څيزونو د قدر او قيمت د لټولو په چکر کښې مدام سرګردان پاتې شوی دی او د خپل دغه فطرت په سوب ئې نړۍ د نوو نوو څيزونو سره اشنا کړې ده او مَړه کړې هم. د انسان د دغه عادت په ترڅ کښې د تحقيق او تنقيد په شان څانګې په وجود کښې راغلې دي. دغه دواړه څانګې ډېرې وسيع او همه ګيرې او د ژوند په هر اړخ خورې ورې دي. خو مونږ ئې دلته تش په ادبي اړخ خبره کوو.

نننۍ مطالعه کښې مونږ د دې دواړو څانګو په خپل مينځ کښې د تړاؤ په موضوع خبرې کوو ځکه چې که هر څو دا دواړه څانګې ځان ځانله شناخت او پېژندګلو لري. ولې د خپل طريقه کار ترمخه دا د يو بل سره

[*] Lecturer, Government Degree College Miranshah (North Waziristan)

ډېر نژدېکت لري، بلکې د يو بل نه بغېر خپل مقاصد ترلاسه کولی هم نۀ شي.

تحقيق د عربۍ ژبې ټکی دی چې د ,,حق،، نه راوتی دی. لغوي معنا ئې حق ثابتول يا د رښتينې لټون کول دي. د دغه حق نه د حقيقت ټکی هم رغ شوی دی. د دې مطلب دا شو چې تحقيق د رښتياؤ د لټولو عمل ته وائي (۱). تحقيق اوس د يوې اصطلاح نوم ګرځېدلی دی. د ډاکټر سېد عبدالله په خيال:

,,....(تحقيق) په اصطلاح کښې يوې داسې لوستې ته وائي چې پکښې د ترلاسه شوو موادو د صحيح يا غلط ګرځولو پرېکړه د ځينو مسلماتو په رڼا کښې کولې شي،، (۲)

خو تحقيق تش د موادو د صحيح يا غلطو پرېکړه هم نۀ کوي، د ترلاسه شوو موادو په سوب يو داسې نوی څيز هم رابرڅېره کوي، چې وړاندې ترې چا نۀ وي رابرڅېره کړی (۳). هم په دغه تناظر کښې مونږ د انګرېزۍ ژبې توري Research ته هم کتلی شو چې يوه معنا ئې په توجه سره لټول او دويمه ئې دويم ځل لټول ده. د رابرټ راس د وينا ترمخه دا د فرانسيسۍ ژبې Rechercher نه وتی دی چې معنا ئې ده To search back يعنې پسې تلل (۴). خو په خپله Rechercher بيا د لاطينۍ ژبې Circare نه وتی دی چې معنا ئې تاوېدل را تاوېدل ده او شايد د انګرېزۍ ژبې توری سرکل هم د دغه توري نه راوتی وي چې معنا ئې دائره ده او په دغه لحاظ پښتو کښې د ريسرچ معنا چاپېره لټول کېدی شي. خو که وکتلی شي نو د تحقيق او ريسرچ په لغوي معنو کښې لږ ډېر توپير شته د ريسرچ معنا لټون يا دوېم ځل لټون کښې يو عاميانه پن دی او د تحقيق په معنا د حقيقتونو اثبات کول يا د رښتينيو دريافت کول کښې ډېر درونډ والی پټ دی. او بيا دا تحقيق چې د ادب په ميدان کښې ترسره کيږي، نو دلته په مکمل ډول د يو منظم عمل شکل واخلي، کوم چې په هر لحاظ منطقي او معروضي وي.

څو پوري چې د تنقید خبره ده، نو تنقید په اصل کښې د عربۍ ژبې د نقد یا انتقاد نه جوړ شوی دی چې لغوي معنا ئې کره کوټه کښې موجود توپیر معلومول دي، عربۍ کښې ,,انْتَقَد یا تَنَقد الدراهم،، معنا ده چې هغهٔ کره او کوټه درهمونه سره بېل کړل او د ,,نَقَدَ اشعُرَ،، معنا ده چې پلانې سړي د شعر نه خامۍ را وویستې (۵). په اصطلاَح کښې د یو څیز خوبۍ او خامۍ په ګوته کولو او د هغه څیز په حقله یوه رائې جوړولو ته تنقید وائي. تنقید د پاره انګرېزۍ ژبه کښې د Criticism ټکی کارول کیږي چې د خامۍ نیونې نه واخله تر د فنپارې تحلیل او تجزیه، تشریح، تفسیر او درجه ټاکنې پورې معناوې په خپل مفهوم کښې لري(۲.

تنقید د تخلیق د مروجو ادبي معیاراتو پاسداري کوي او د نوو معیارونو د پاره لارې ګودرې لټوي. تنقید د تخلیق نه یو قدم په وړاندې تګ کوي او په کومو لارو ګودرو چې تنقید تېرېږي، تخلیق هم په ځان پسې مسلسل راکاږي، که څهٔ هم په دغه لړ کښې دا وضاحت کول ضروري دي چې د تخلیق نه یو قدم وړاندې تنقید دې موضوعي وګڼل شي چې د دې تعلق ښخې د یو انسان یا بیا په خپله د دغه تخلیق کار انسان هغه وړومبۍ هڅه وي، په کوم چې دهٔ ته وروستو یوه تخلیقي فنپاره مینځ ته راوړل وي. د تنقید ډېر تعریفونه شوي دي. مولانا نیاز فتح پوري یو ځای لیکي:

"د لوړې پائې د تنقید بنیادي کار دا په کار دی چې د ادبیاتو په هغو ټولو صورتونو غور وکړی شي، د کوم نه چې د ژوند تشریح کیږي او د دغه غور نه چې کومه پایله رامینځ ته کیږي هغه به د نقاد پرېکړه وي" (۷)

اوس راځو د خپلې مقالې بنیادي غرض او غایت پله چې د تحقیق او تنقید په خپلو کښې د خپلوۍ یا اشتراک او بېلتون په حقله یوه لنډه شان مطالعه وړاندې کړو. په دغه سلسله کښې تر ټولو وړاندې باید دا ووئیل شي چې لکه څنګه چې د تخلیق او تنقید په ترڅ کښې اولیت تنقید ته ورکول کیږي چې وړومبۍ تنقیدي شعور د ژوند یو اړخ ته ور ورسي او هغه تنقیدي شعور بیا د یوې فنپارې د تخلیق سوب ګرځي او

په دغه وجه ادب ته د ژوند تنقید هم وئیلی کیږي، بېخي دغه رنګې تحقیق د تنقید نه یو قدم وړاندې روان دی، ځکه چې د تحقیق اصل منصب لټون دی او لټون د نالیدلي یا ناپېژندلي څیز کیږي. تنقید پایلې (نتیجې) وي او پایلې د موجودو څیزونو مخې ته راوړل کیږي، ولې تحقیق د ناموجودو لټون وي. نو وړومبی لټون وشي، ناموجود په وجود کښې راوړل شي، بیا د هغې نه پایلې راویستل کیږي. نو وړومبۍ خبره خو دا شوه چې اولیت تحقیق ته حاصل دی، بیا تنقید دی او بیا چرته د تخلیق وار دی. (خو یاده دې وي چې د دې ترتیب نه زما مقصد د ادب د کوم اړخ کمزوري ثابتول هرګز نهٔ دي.)

د تحقیق او تنقید د خپلوۍ چې څو پورې خبره ده نو په دغه لړ کښې د یو پخواني مغربي مصنف جی. ایم. رابرټسن وېنا د راوړلو جوګه ده:

"تنقید د لټون او کوشش یوه څانګه ده، بېخي د هغو نورو څانګو په شان چې د انسان د فطري ذوق لټون، د عجیبه او نوو خبرو پېژندل، د څیزونو د علم ترلاسه کولو او د هغې د بیانولو جذبه پکښې شامله وي.،، (۸)

نو د پورتنۍ حوالې نه خو بېخي دا خبره هم په ډاګه کیږي چې ګني د تحقیق او تنقید بنیادي ماده یوه ده. خو خبر بېخي داسې هم نهٔ ده ګني بیا خو د تنقید هډو نوم نهٔ ؤ پکار، د لټون او دریافت وظیفه خو تحقیق هم ترسره کولی شوه. ولې د یو بل سره ئې خپلوۍ یا اشتراکات هم تر کافي حده پورې موندل کیږي. ډاکټر ګیان چند په خپل اردو کتاب "تحقیق کا فن" کښې لیکي:

„د تحقیق او تنقید اخر نی مقصد ایکي یو دی دواړه د ادبي تخلیقاتو مطالعه وړاندې کوي، دواړه د لوستونکیو د لارښودنې کار کوي او دواړه د ادیب او ادب پارې په لړ کښې د بهرنو معلوماتو نه ګټه اخلي،،(۹)

محقق او نقاد دواړه د صداقت په لټون بوخت دي. که محقق د تخلیق د پس منظر په مطالعه کښې غرق وي نو نقاد د تخلیق د متن په مطالعه کښې ډوب وي او چې دواړه خپل خپل کار سر ته ورسوي، نو د

یوۀ کار د بل په ښۀ راشي او دارنګې د دواړو د کار او زیار نه چې ګټه پورته کړی شي، نو هله یو ښۀ تحقیق رامینځ ته شي او هله یو معیاري تنقید وجود ومومي.

او بیا یو محقق چې هر کله خپل تحقیقي کار ته کښېني، نو د هغۀ په ذهن کښې پراتۀ سوالونه د محقق په ذات کښې د موجود تنقیدي شعور نشاندهي کوي. محقق یو سوال مخې ته ایښی وي، هغه سوال یا مسئله د محقق تنقیدي شعور بللی شي. د هغه مسئلې د هوارولو د پاره محقق سر وهلی بر وهلی ګرځي د موادو د راغونډولو هڅه کوي او چې کله خپل اړونده مواد راغونډ کړي، بیا ئې ګوري، د هغو د صحیح او غلطو پرېکړه کوي. دا پرېکړه محقق د خپل تنقیدي صلاحیت تر مخه کوي، کوم چې د هغۀ د ذهن سرمایه ده.

د تحقیق یوه اهمه څانګه د متني تحقیق ده. دغه قسم تحقیق کښې یو محقق دا ګوري چې کوم متن چې د تحقیق لاندې دی او کوم مصنف ته منسوب دی، آیا دا واقعتاً د مصنف خپل دی ؟ او که نۀ د زماني د تېرېدو او د یو نه بل ته د بدلېدو په سوب پکښې تصریحات شوي دي ؟ یا د بل چا مصنف کوم متن پورې تړلی شوی دی؟. ډاکټر ګوهر نوشاهي لیکي:

,, د متني تحقیق بنستیز مقصد دا دی چې د نقل نه د نقل یا د روایت نه د روایت د عمل په سوب چې متن د کومو غلطیو او اصلاحاتو نه ډک شوی وي، هغه خپل اصل حالت ته راوړل،، (۱۰)

د متني تحقیق په دائره کښې د الحاقي موادو لوسته هم راځي. اوس که مونږ وګورو نو د متني تحقیق ټول په ټوله مطالعه د تنقید سره اړونده ده. که هر څو د متني نقاد کار د فنپارې د فني، ژبني، تاریخي او تهذیبي اړخونو د مطالعې په بنیاد د متن یا تخلیق غایت او اهمیت په ګوته کول وي ولې دلته محقق مجبور دی چې د مصنف د اسلوب نه به ګټه ترلاسه کوي. که څۀ هم د اسلوب لوسته خالصه د تنقید ذمه واري ده.

خو بغېر د اسلوب د مطالعې نه محقق د مصنف او د نورو د متن پېژندنې عمل سر ته نۀ شي رسولی.

دارنګې یو محقق چې د کوم دور د ادب مطالعه د یوې مخصوصې زاویې سره وړاندې کوي نو د هغه دور په شاعرانو ادیبانو کښې که په باقاعده توګه درجه بندي نۀ کوي. ولې د وړاندې وروستو یا حفظِ مراتبو خیال به پرې خامخا لاژم وي او تنقید چونکې دا کار په باقاعده توګه کړی وي، نو دلته به محقق د تنقید نه ارومرو ګټه پورته کوي.

څو پورې چې په تنقید کښې د تحقیق د ګډون خبره ده نو تر ټولو د مخه باید چې دا خبره وشي چې د ادب په ټولو میدانونو کښې تحقیق زیات سائنسي عمل ته نزدې دی. دا په باقاعده توګه یو حساب کتاب غواړي او د ګڼ او شمېر لوبه ده، په نورو ټکیو کښې دا په مکمل ډول د معروضیت نمونه ده، بل خوا تنقید دی چې د وجدان په زور زیات ترسره کیږي او په ذاتي فکر باندې زیاته اډانه لري، په نورو ټکیو کښې تنقید موضوعي شی دی. خو د جدید تنقید مختلف دبستانونه چې بنده لولي، نو په تنقید کښې هم د تحقیق په شان یو سائنسي عمل روان دی :

,, تنقید هم یو سائنس دی، دا هم د سائنس په شان د حق په لټون کښې د ی خو د تنقید حقیقت د څۀ نسبتونو او مقدارونو سره د حسن لټول دي، په دغه کښې هم څۀ عقلي اصول کار کوي. د لوستونکیو د مطمئن کولو د پاره څۀ عقلي مسلمات ډېر ضروري دي. او دلته نه تنقید یو سائنسي عمل وګرځي،، (۱۱)

تنقید اوس ایله د متن سره سریکار نۀ لري، بلکې هغه مونږ ته دا هم ښائي چې رحمان بابا د کومې زمانې سره تعلق درلودۀ؟، په کوم رنګه ماحول کښې ئې ژوند کولو؟، د هغۀ په دور کښې کوم رنګه علمونو ته رواج ترلاسه ؤ؟ او ټولنیز ژوند په کومو اصولو اډانه ؤ؟ او د هغۀ فن د پرمختګ کوم پړاوونه وهلي دي؟. دا قسم نور ډېر سوالونه ټول په ټوله ځوابول د تحقیق وظیفه ده. خو تنقید مجبور دی چې د یو شاعر یا ادیب د فن او فکر په حقله

د تجزئې کولو په لړ کښې د تحقيق نه ګټه پورته کړي. که څۀ هم ډاکټر سېد عبدالله زمونږ پام په دغه لور هم راګرځولی دی چې:

" تاثراتي تنقيد به چغه کړي چې د نقاد دې سره څۀ کار دی چې شاعر يا ليکونکی څوک ؤ؟ د چا زوئ ؤ؟ څۀ څۀ کار روزګار ئې درلودۀ؟ او چا سره ئې عشق کړی ؤ؟. خو د هغوئ دا خبره د چلېدو ځکه نۀ ده چې دارنګې خو به دوئ د دې ضرورت هم بيا نۀ محسوسوي چې شاعر د کومې پېړۍ ؤ؟ د کوم ملک ؤ؟ او کومه ژبه ئې وئيله؟،، (۱۲)

او که دا پورتني سوالونه په نقاد کښې موجود تحقيقي بصيرت ونۀ ځوابوي، نو د دې نه پرته به نقاد په کوم بنياد د شاعر يا اديب د درجه بندۍ يا د هغۀ د شاعرانه مقام په حقله پرېکړه کوي. خو نقاد کښې پټ د محقق بصيرت هم موجود په کار دی چې په مټ ئې دا ټول حقيقتونه راټول کړي او د هغې نه پس په سره سينه د شاعر د فکر او فن په حقله يوه پرېکړه وکړي.

د تحقيق او تنقيد په خپلو کښې د اشتراکاتو په حقله بې شمېره دليلونه او د پوهانو وېناګانې راټولېدی شي. خو دلته د هغو ټولو انبار لګول مو مقصد نۀ دی، بلکې تش خبره واضحول دي او په دغه حقله د پروفېسر ډاکټر نګېندر دا وېنا به کافي وي:

"د صداقت درې درجې دي، حقيقتونه راټولول، فکر او يقين... بيا حقيقت ته د فکر جامه ور اغوستلو د پاره د احساس ګرمي او فکر په يقين کښې د بدلولو د پاره نظريه غواړي او دا هر څۀ که د ادبي تحقيق د پاره ضروري دي نو د ادبي تنقيد بنيادونه هم دي،، (۱۳)

غوره تحقيق يا تنقيد هم هغه وي چې د دواړو شعبو په کومک سره په وجود کښې راغلی وي خو د دې دا مطلب هم نۀ دی چې د يو بل نه بغېر ځان ځانله تحقيق يا تنقيد خپل سفر جاري نۀ شي ساتلی. د يو بل نه ئې توپير هم مسلم دی. د اردو ژبې د نوميالي محقق رشيد حسن خان په خيال دا دواړه يو د بل نه ډېر جدا دي:

,,تنقیدي رښتیني د تنقیدي تعبیراتو پایله وي، ځکه خو د یوې مسئلې په حقله د خلقو یا نقادانو رائې هم بېلې بېلې وي، ولې تحقیق کښې د داسې اختلاف څۀ قسمه ځای نۀ وي،، (۱۴)

تحقیق کښې بېخي ډېره کوټلې خبره کیږي، د شک، قیاس او تاویلونو دائره چې چرته شروع شوه، هلته د تحقیق قدمونه بیا نۀ ایساریږي.

د تحقیق بنسټیزه وظیفه په علم کښې زیاتوالی راوستل دي او کوم لیک یا هڅه چې دا کار نۀ شي کولی، هغه د تحقیق په زمره کښې نۀ راځي، ولې تنقید د علم سره د لوستونکیو د جوړ جاړي کار کوي، تنقید د تفهیم وظیفه تر سره کوي. تنقید د علم او ادب سره د لوستونکیو اړیکې ټینګوي، ولې تحقیق د چا لوستونکي هډو خیال نۀ ساتي، د لوستونکیو د ذوق نه بې غمه یو کوټلې صداقت ته ځان رسوي. د محقق په وړاندې کوم معیار نۀ وي پروت، ولې نقاد ته مخکښې د تخلیق ګڼ معیارونه پراتۀ وي. داسې بې شمېره تحقیقي مقالې د مثال په توګه وړاندې کېدی شي چې د تنقید نه بغېر لیکلې شوې دي او د تنقید هم داسې ډېرې غوره نمونې شته چې د تحقیق نه بغېر په وجود کښې راغلې دي.

البته که چرته دا رویه وساتل شي چې د دواړو څانګو تر مینځه لرې والې راوست شي، نو ویره ده چې ډېر غېر سائنسي او غېر معیاري تحقیق او تنقید به رامینځ ته شي او که چرته د دواړو څانګو نه کار واخستلی شي او محقق د نقاد او نقاد د محقق خوبیانې په ځان کښې پیدا کړي، نو امکان دی چې د پښتو د تحقیق او تنقید په میدانونو کښې به د لوړې پائې نمونې مخې ته راشي.

❁❁❁

# حوالي

(1) گیان چند، ڈاکٹر، تحقیق کا فن، مقتدرہ قومی زبان، پاکستان، طبع سوم، ۲۰۰۳، ص ۹

(2) عبداللہ، سید، ڈاکٹر، تحقیق و تنقید، مشمولہ، اردو میں اصول تحقیق (جلد اول)، مرتبہ ڈاکٹر سلطانہ بخش، ورڈ ویژن پبلشرز، اسلام آباد، طبع چہارم، ۲۰۰۱ ص ۳۳

(3) گیان چند، ڈاکٹر، تحقیق کا فن، ص ۱۰

(4) ایضاً، ص10.

(5) عبداللہ، سید، ڈاکٹر، اشاراتِ تنقید،، مکتبہ خیابان ادب لاہور، بار اول، مئی ۱۹۶۶، ص ۱

(6) عبداللہ، سید، ڈاکٹر، اشاراتِ تنقید، ص ۲

(7) فتح پوری، نیاز، ادبیات اور اصولِ نقد، مشمولہ تنقیدی نظریات، مرتبہ سید احتشام حسین، اکادمی لاہور، باراول، ۱۹۶۸، ص ۴۳

(8) عبداللہ، سید، ڈاکٹر، اشاراتِ تنقید، ص ۶

(9) گیان چند، ڈاکٹر، تحقیق کا فن، ص ۳۵

(10) نوشاہی، گوہر، ڈاکٹر، متنی تحقیق یا متنی تنقید، مشمولہ اردو تحقیق، مرتبہ ڈاکٹر عطش درانی، مقتدرہ قومی زبان پاکستان، ۲۰۰۳، ص ۲۰۸

(11) عبداللہ، سید، ڈاکٹر، تحقیق و تنقید مشمولہ، اردو میں اصولِ تحقیق (جلد اول)، ص ۳۷

(12) ایضاً، ص ۳۴. ۳۵

(13) نگیندر، پروفیسر وڈاکٹر، تحقیق و تنقید، مشمولہ اردو میں اصولِ تحقیق، (جلد دوم) مرتبہ ڈاکٹر سلطانہ بخش، ورڈ ویژن پبلشرز اسلام آباد، ۲۰۰۱، ص ۶۲.

(14) ایضاً.